UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

## د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړې استازې، آغلې دیبورا لاینز وینا

[*څرنګه چې وړاندې شوې*]

**نیو یارک، ۳ سپتمبر ۲۰۲۰**

* * *

ښاغلي رئیس،

څرنګه چې زه اوس خبرې کوم، د افغانستان د اسلامي جمهوریت په استازیتوب افغانان له نورو افغانانو سره چې د طالبانو استازیتوب کوي جګړې ته د یوه پایښت لرونکي حل په اړه خبرو اترو ته د کیناستو لپاره چمتوالی نیسي. دا په واقعي ډول یوه تاریخي شیبه ده. تر څلور لسیزو جګړو وروسته، د افغانستان خلک تر بل هر وخت زیات اوس د دې داعیه او لامل لري څو هیله ولري چې دغه ویجاړوونکې جګړه بالاخره پای ته ورسیږي، کومې چې ډیرې ناخوالې او کړاونه رامنځ ته کړي.

خو راځئ چې په دې اړه روښانه و اوسو – دا به یوه اوږد مهاله او له ننګونو ډکه پروسه وي. د خبر اترو تر پیل مخکې پړاو لا وار د مخه د بندیانو د خوشې کولو په تړاو ستونزمنې موضوعګانې راولاړې کړې، چې حل یې یو څه وخت ونیوه- په واقعیت کې ۵ میاشتې. په پای کې به مذاکرات د دولت د نوعیت په اړه یو لړ هغه ژورې او بنسټیزې پوښتنې حل کړي چې افغانان یې غواړي. دغه پوښتنې یوازې د دې له لارې حل کیدای شي چې افغانان له نورو افغانانو سره په دې اړه خبرې اترې ترسره کړي. موږ پر دې پوهیږو چې حل لارې د جګړې په ډګر کې نه موندل کیږي، او نه هم له بهر څخه تحمیل او تپل کیدای شي.

په ورته وخت کې کله چې سوله راشي، افغانان زموږ ملاتړ ته اړتیا لري او مستحق یې دي، څو دوام ومومي. څرنګه چې د سولې پروسه د پراخیدو په حال کې ده، غواړم تاسو ته یو څو شیبې د یوناما د هغو هڅو چې د سولې لپاره فضا برابروي او د نړیوالې ټولنې د رول په اړه د معلوماتو په وړاندې کولو ولګوم.

ښاغلي رئیس،

د محتاطانه خوبیشنۍ له فضا سره سره، د جګړې په ډګر کې د تاوتریخوالي کچې په ژور ډول اندېښمنونکې دي. د تخریبوونکو له خوا د هغو بدنامو بریدونو په ګډون چې د سولې په پروسه کې دخیل ولسي وګړي په نښه کوي، وروستۍ څو اونۍ د ریکارډ تر کچې د امنیتي پېښو د لوړ شمیر شاهدې وې.

موږ باید د تاوتریخوالي ناوړه پایلې په پام کې ونیسو. جګړه هره اونۍ په سلګونو افغانان ژوبلوي او وژني. دا همدارنګه په میلیونونو وګړي بېځایه کوي چې زیاتره یې بیرته سملاسي خپلو کورنو ته د ستنیدو تمه نه لري. په دې خورا مهم وخت کې، جګړه بشري لاس رسي له خنډونو سره مخ کوي، چې زیات شمیر وګړي له ژوند ژغورونکو مرستو بې برخې کوي او د کوویډ-۱۹ وبا ته د غبرګون مخه نیسي. او لکه څرنګه چې موږ د سولې خبرو اترو په تمه یو، دغه تاوتریخوالی د بې باورۍ یوه داسې فضا رامنځ ته کوي چې مذاکرات د ځنډ او له خپل مسیر څخه د اوښتو له ګواښ سره مخ کوي.

UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

راځئ په یاد راوړو چې د څلورو لسیزو جګړو افغانستان ته څه راوړي. په تیرو دوه لسیزو کې د پام وړ پرمختګ سره سره، افغانستان لا اوس هم د ښځو او ماشومانو لپاره د نړۍ یو تر ټولو بد ځای شمیرل کیږي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري له معلوماتو سره سم، افغانان په اسیا کې د کډوالو تر ټولو ستر شمیر وګړي، او په ټوله نړۍ کې د کډوالو دویم تر ټول زیات شمیر کډوال جوړوي. د ډونرانو له خوا د دوه لسیزو د پام وړ مالي مرستو سره سره، لا اوس هم په میلیونونو افغان د شدیدې بې وزلۍ په وضعیت کې ژوند کوي. او څرنګه چې موږ افریقا ته د پولیو د له منځه وړلو لپاره مبارکي وایو، موږ له یوې واقعي احصائي سره مخ یو: افغانستان اوس د نړۍ یو له هغو دوو هیوادونو څخه دی، چیرې چې پولیو لا اوس هم زموږ د ځوان نسل روغتیا ګواښي.

خو دغه کار نه باید په دغه ډول وي. موږ د جګړې پر ټولو ښکیلو خواوو د تاوتریخوالي د راکمولو لپاره خپله غوښتنه جاري ساتو. له زیات شمیر افغانانو سره یو ځای، موږ هیله لرو چې د بین الافغاني مذاکراتو د اجنډا یوه له لومړنیو موضوعاتو څخه یو واقعي بشري اوربند وي. د افغانستان د تر ټولو زیاتو زیانمنیدونکو خلکو لپاره خطرونه تر دې نه شي لوړیدای. زه له ټولو غړو هیوادونو څخه غوښتنه کوم، څرنګه چې مذاکرات د پیلیدو په درشل کې دي، دغه غوښتنه زیاته کړي. او مذاکرات به پیل شي.

ښاغلي رئیس،

په هیله مندۍ سره چې په راتلونکو ورځو کې به بین الافغاني مذاکرات پیل شي. ما د راتلونکو ورځو یادونه وکړه نه د راتلونکو اونیو. موږ د قطر، د متحده ایالاتو، پاکستان، او دغه راز زیات شمیر نورو هغو غړو هیوادونو مننه کوو څوک چې په سختو ډیپلوماتیکو هڅو بوخت وو، تر دې چې موږ یې تر دغه ځایه راورسولو. زموږ له پلوه، ملګري ملتونه به له نړیوالو همکارانو او کوربه هیوادونو سره کار کوي څو د پروسې په اوږدو کې له دواړو ښکیلو خواوو سره مرسته وکړي. خو د سولې یوه پروسه، او آن د سولې یو تړون سوله نه رامنځ ته کوي. موږ ټول باید خپله برخه کار ترسره کړو څو د سولې خبرو اترو لپاره یو مساعد چاپیریال رامنځ ته کړو. په موازي ډول، موږ باید دا ډاډمن کړو چې یوې هوکړې ته په رسیدو سره سم د سولې د تقویې لپاره زمینه برابره شوې.

د ملګرو ملتونو په څیر، زموږ یوه تر ټولو مخکښه موضوع، په یقیني ډول د پایښت لرونکې سولې په ترلاسه کولو کې به د بشري حقونو نقش وي. موږ له اوږدو تجربو پر دې پوهیږو چې د سولې پروسې هغه مهال زیاتې غښتلې وي کله چې هغوی د جګړې د قربانیانو حقونه په پام کې نیسي. نو له همدې امله موږ د سولې په مذاکراتو کې د قربانیانو د غږونو او پر قربانیانو د متمرکز عدالت د میکانیزمونو د شمولیت لپاره د جګړې له ښکیلو خواوو سره ډیالوګ پیل کړی. دا یوه ستونزمنه موضوع ده، خوا دا خورا مهمه ده، او دې ته باید د مذاکراتو پرمهال پاملرنه وشي. کله چې د قربانیانو شکایتونه وپیژندل او حل شي، نو یوازې دغه مهال یوه ریښتینې پخلاینې شونې دي. زه پر قربانیانو د متمرکز عدالت په اړه د ملګرو د ګروپ لپاره د هالنډ شاهي هیواد له خوا د مسوولیت اخیستلو او کار کولو مننه کوم.

موږ دغه راز په دغه غونډ ځای کې په پروسه کې د افغان میرمنو د شمولیت د اړتیا په اړه خبرې وکړې. زه په دې وروستیو کې، په جولای میاشت کې د غیر رسمي ناستې پرمهال د افغان میرمنو لپاره د غړو هیوادونو له خوا د غښتلو څرګندونو له امله متاثره یم. زه یو ځل بیا د دغو مراسمو په ملاتړ کې د افغانستان، د متحده شاهي، د افغان میرمنو د ملګرو د ګروپ مشرتابه، اندونیزیا او جرمني هیوادونو د کار قدرداني کوم.

خو موږ ټول پوهیږو چې یوازې خبرې کول کافي نه دي. څرنګه چې ښکیلې خواوې مذاکراتو ته داخلیږي، د ښځو د حقونو موضوع لا وار د مخه د هغوی د اختلاف یوه تر ټولو ستونزمنه او هغه موضوع ګڼل کیږي چیرې چې هر ډول جوړجاړی رامنځ ته کیدای شي، چې دا به د غړو هیوادونو لپاره یو ستونزمنه معضله رامنځ ته کړي. د ښځو د حقونو موضوع به

ډېره مرکزي وي، د افغان سولې په پروسه کې به دغه موضوع په دې وروستيو کې د سولې د نورو مذاکراتو په پرتله ډېر مرکزي رول ولوبوي. په کابل کې، ما د سولې پروسې په اړه د افغان مېرمنو له شبکې سره د ناستو يوه لړۍ پيل کړې، کومه چې موږ ته د هغوی د اندېښنو، او دغه راز د پراخ ګډون او تعامل لپاره د ممکنه فرصتونو او ساحو په اړه مهم ليدلوري راکولی شي.

خو موږ ټول پوهيږو چې دا د سولې پر ميز د ښځو ګډون او استازيتوب دی کوم چې د دې تر ټولو غوره فرصت برابروي څو ډاډمن شي چې د هغوی حقونه رعايت شوي، او دا چې د يوه سوله ييز افغانستان د عنصرونو لپاره د هغوی ليد لوري د خبرو اترو په ټولو اړخونو کې منعکس شوي. زه د فعال پوهاوي او تر هغه وروسته د بين الافغاني خبرو اترو لپاره د هغوی د تياريو په پار د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مذاکره کوونکي ټيم د ښځينه غړو او د سولې د نورو جوړښتونو قدرداني کوم. تر دې شيبې، موږ د طالبانو په لوري کې د ښځو د کوم ګډون او استازيتوب په اړه نه يو خبر، خو موږ هيله مند يو چې هغوي به هم په خپل مذاکره کوونکي ټيم کې د پاتې ۵۰ سلنه نفوس يعني د ښځو د مهم ګډون لپاره يوه لار پيدا کړي.

د يوې ټول شموله او پايښت لرونکې سولې په غښتلي کولو کې د افغانستان خوځنده رسنۍ خورا مهمې دي. زه ښاغلي محسني د دغې موضوع په اړه د هغه د رهبرۍ لپاره، او زيات شمير نور زړور افغان ژورنالستان ستايم چا چې د خپل کار په ترسره کولو کې د پام وړ ګواښونه پر سر اخيستي. را روانه اونۍ چې هيله ده دا به زما لومړی کار وي، د داخلي رسنيو له کنسرتيوم سره زيات شمير غونډې ترسره کړم څو په دې اړه خبرې اتره ترسره کړو چې څرنګه له مدني ټولنې سره يو ځای کار وکړو څو د سولې د مذاکرې د مودې په اوږدو يو فعال او ران ډيالوګ راوپاروو، تر څو د خبرو اترو د مياشتو په اوږدو کې د افغانانو ترمنځ ژوندۍ او خوځنده مباحثې ولرو.

ښاغلي رئيس،

سوله به يوازې هغه مهال په واقعي ډول رامنځ ته شي کله چې هغه د افغان وګړو لپاره مادي ګټې ولري. دغه کار هم د ټولو خواوو له لوري بنسټيزو تياريو ته اړتيا لري: د افغان دولت له خوا؛ د سيمه ييزو هيوادونو له خوا؛ او د نړيوالې ټولنې له خوا. د دولت تر څنګ موږ په افغانستان کې له نړيوال بانک، د اسيا پراختيايي بانک، او له خصوصي سکتور سره کار کوو څو د اقتصادي پراختيا په وړاندې ننګونې او د سولې سترې اقتصادي ګټې په ګوته کړو.

سيمه ييزه همکاري دواړه د د سولې د مرستندويه او ګټه اخيستونکي په څير د دغه کار خورا مهم عنصر ګڼل کيږي. د سوداګرۍ او ترانزيت، د زيربنايي نښلون، له نشه يي توکو سره د مبارزې، ولسي حرکتونو، پوهې د ليږدې او داسې نورو ډېرو برخو کې د خپلو سيمه ييزو اړيکو په ژورولو سره، افغانستان کولی شي خپل پراخ ناکارول شوي امکانات او پوتنسيال درک کړي، او د اسيا په زړه کې له خپل ستراتيژيک موقعيت څخه بشپړه ګټه پورته کړي.

په ورته وخت کې يو ټيکاو لرونکی افغانستان به يو لا خورا ښېرازه ګاونډيتوب رامنځ ته کړي. د تاشکند د کنفرانس او هغه کار په روحيه چې تر ما مخکې د نورو له خوا په سيمه کې ترسره شوی، ماموريت په کابل کې د سفيرانو يو کاري ګروپ رامنځ ته کړی، چې د افغانستان شپږ ګاونډي هيوادونه سره را غونډوي څو په کليدي برخو کې د واقعي کار په اړه مباحثې ترسره کړي. زه د هغه غبرګون له امله چې ما له شپږو ګاونډيو هيوادونو – چين، ايران، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان – څخه ترلاسه کړي ډېره خوښه او تر تاثير لاندې راغلې يم، او له هغوي، حکومت او د ملګرو ملتونو له زيات شمير ادارو سره به کار جاري وساتو، ځکه دا يوازې د يوناما موضوع نه ده، دا د ملګرو ملتونو د ټولو هغو ادارو موضوع ده چې په افغانستان او دغو شپږو ګاونډيو هيوادونو کې کار کوي. څرنګه کولی شو د منابعو، پوهې، عقل او وړتياوو پانګه رامنځ ته کړو څو پر يوه تر ټولو شتمن، لا زيات ښېراز، لا زيات سوله ييز او لا زيات با ثباته

ګاونډیتوب باندې تمرکز وکړو. څرنګه چې دغه تمرین وده کوي، دا به د زیات شمیر نورو فارمټونو/ترتیباتو سره اړیکې ولري چې له زیاتو هغو سره یې تاسو اشنا یې لکه د اسیا زړه- استانبول پروسه، د افغانستان په اړه د سیمه ییزې همکارۍ کنفرانس، د شانګهای د همکارۍ سازمان او داسې زیات نور.

ښاغلی رئیس،

د دې لپاره چې سوله رامنځ ته شي، افغانستان پیاوړو او باوري عامه ادارو ته اړتیا لري او دا اړتیا به دوام ومومي. خوښه یم چې په تیره اونۍ کې د دولت له خوا د کابینې د جوړولو او دغه راز د مصالحې عالي شورا ته د ګمارنو په اړه یادونه کوم. خو لا اوس هم باید ډیر نور کار ترسره شي. د یوناما له اداري فساد سره د مبارزې تر ټولو وروستي راپور د پام وړ ساختاري تشې په ډاګه کړې، کومو چې پرمختګ له خنډ سره مخ کړی او باور یې کمزوری کړی. موږ له دولت، مدني ټولنې او د ډونرانو له ټولنې سره کار کوو چې له اداري فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ او تر ټولو اړین له اداري فساد سره د مبازې د کمیسیون په ګډون محسوس او واقعي نوښتونه وهڅوو.

په نومبر کې د ژمنو تر کنفرانس په مخکې موده کې، اداري فساد ته رسیدګی د مرستندویانو د باور جوړونې لپاره خورا مهم دي. د تیاریو په برخه کې، موږ د کنفرانس له ګډو کوربانو افغانستان او فینلنډ، دغه راز له اړوندو وزیرانو او ډونرانو سره له نږدې کار کوو څو د دولت د لومړیتوبونو او د ډونرانو د نړیوالې ټولنې د توقعاتو او شرطونو ترمنځ یوه پیاوړې تطابق ته وده ورکړو. روان کال، موږ باید دا ومنو چې موږ د نړیوال مالي بحران له پیچلي وضعیت سره مخ یو چې د کووید-۱۹ له امله رامنځ ته شوی، کوم چې به د کلیدي ډونرانو له خوا مالي ژمنې له محدودیتونو سره مخ کړي. خو موږ له افغانستان سره مرستې ته ژمن یو څو د ډونرانو د روان ملاتړ لپاره تر ټولو غوره دلایل وړاندې کړو. او د دغې موخې لپاره، د باوري عامه ادارو موضوعاتو ته چې د اداري فساد او زیات شمیر نور موضوعات سمبالوي باید رسیدګي وشي. څرنګه چې سوله یوازې د پرمختیا لپاره لار هواروی، د پرمختیا لپاره دوامدار نړیوال ملاتړ باید هم چمتو او قریب الوقوع وي، که چیرې موږ غواړو چې سوله تحکیم کړو.

د یادونې وړ ده چې د ژمنو کنفرانس به په موازي ډول له بین الافغاني مذاکراتو سره همهاله ترسره کیږي. هره پروسه باید یو بل تقویه کړي. له سیاسي ارادې او د افغان وګړو له حیرانوونکې مقاومت سره ملې، دغه دوه پروسې به سره یو ځای د افغانستان د راتلونکې تګلوری وټاکي. له همدې امله موږ د یوناما په څیر، د پراختیا او حکومتولۍ د موضوعاتو د پراخ درک او دغه راز زموږ د بشري حقونو د روان ډیالوګ په اړه د مباحثو په ګډون، په منظم ډول له طالبانو سره تعامل کوو څو ډاډمن شي چې هغوی د نړیوالې ټولنې د یوه غړي په څیر د افغانستان له مکلفیتونو په ښه ډول خبر دي. زه دغه کار تر ټولو مهم ګڼم.

ښاغلی رئیس،

روان کال، د کووید-۱۹ وبا افغانستان سخت اغیزمن کړی. د کووید له ۳۸۰۰۰ څخه د زیاتو مثبتو پېښو په اړه خبر ورکړل شوی، او له ۱۴۰۰ څخه زیاتو نورو د دغې ناروغۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی – سره له دې موږ پوهیږو چې واقعي شمیرې ښایي تر دې ډیرې لوړې وي. زیات شمیر افغانان د عوایدو او معیشتونو د لاسه ورکولو له امله اغیزمن شوي. ماشومانو د ښوونځیو خورا مهمې میاشتې له لاسه ورکړی. د راپورونو له مخې – او په خواشینۍ سره، لکه څنګه چې د نړۍ په زیات شمیر نورو هیوادونو کې هم پېښ شوي – ښځې په زیاته کچه د جنډر پر بنسټ له تاوتریخوالي څخه اغیزمنې شوي. د دغو ژوندونونو بیرته رغول به یوه له زیاره ډک دنده وي.

زه د افغانستان د کووید-۱۹ له ملي غبرګون سره د شورا د غړو د ملاتړ او دلته په ساحه کې زموږ د کارمندانو د روغتیا او سلامتیا لپاره د ستاسو له خوا د په ډاګه شویو اندېښنو مننویه یم. له نیکه مرغه، وضعیت بیرته ثابت شوی او نه

ماتیدونکو افغانانو وکولی شول چې د کوویډ-۱۹ لومړۍ څپه تحمل کړي. خو وبا په ساحه کې زموږ عملیات په ناوړه ډول اغیزمن کړی او موږ پر رامنځ ته شویو محدودیتونو د برلاسه کیدو لپاره هر کار ترسره کوو. موږ پر دې نه پوهیږو چې منی له ځان سره څه لري.

ښاغلی رئیس،

له دغو ټولو ننګونو سره سره، اجازه راکړئ ډاډ درکړم چې دا زموږ د ټولو لپاره یو ستر ویاړ دی چې موږ ته د شورا له خوا راکړل شوی ماموریت د افغانستان د خلکو په خدمت کې اجرا کړو. زه ډاډه یم چې راتلونکي کې بیا سره وینو، موږ به د هغه پرمختګ په اړه خبرې اترې کوو چې په بین الافغاني مذاکراتو کې رامنځ ته شوی. ستاسو، د افغانستان د ګاونډیانو او نړیوالو ډونرانو ملاتړ د دغو مذاکراتو د بریا لپاره خورا اړین دی. د افغانستان خلکو ستاسو د ملاتړ غښتلي غږونه واوریدل او د هغوی له راتلونکې سره د ملګرو ملتونو د روانو ژمنو قدرداني کوي. زه دا هره ورځ تکراروم. موږ چمتو یو چې له هغوی سره په هره طریقه چې موږ کولی شو، مرسته وکړو.

مننه

* * *

*یوناما له افغان ولس او دولت سره مرسته کوي څو سوله او ټیکاو ترلاسه کړي. د یوه سیاسي موریت په څیر د هغې له صلاحیت سره سم، یوناما د شخړو په مخنیوي او حل کې مرسته کوي، شمولیت او ټولنیزې همغږۍ ته وده ورکوي او دغه راز سیمه ییزه همکاري غښتلې کوي. ماموریت د موثرې حکومتولۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو ادارو ته وده ورکوي کومې چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړې شوي. یوناما د شخړې د رامنځ ته کیدو، زیاتیدو یا پراخیدو د مخنیوي په موخه د هغو ډیپلوماتیکو ګامونو په ګډون چې د ادارې پر خپلواکۍ، بې پرېتوب او ریښتینوالۍ متکي دي، د ښه نیت هڅې او نور کلیدي خدمتونه وړاندې کوي. ماموریت د افغان پراختیا او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوال ملاتړ همغږی کوي.*